# پیلیزه، د اسد ۲۴مه

بسم الله الرحمن الرحیم

د اسد ۲۴مه ۱۴۰۱، په هېواد کې د اسلامي امارت د بریا او ویاړلې فتحې ورځ ده. درې کاله مخکې په همدې ورځ د امریکایي یرغل تړول او د شل کلن اشغال په پایله کې هېوادوالو د خپلواکۍ ساه واخیسته او د یو هو سا، ارام او سوکاله ژوند د پیل په تکل یې د همدې ورځې په سهار د کابل په دروازو کې د سپینو بیرغونو په بدرګه د مجاهدینو هر کلی د الله اکبر په نارو کولو.

د شل کلن امریکایي اشغال له ناورین څخه د ځوربدونکي ولس زړونو په پوره باور منلي وه، چې نور یې په هېواد د اسلامي امارت د واکمنۍ مراندې په ټینګېدو دي او دا انګېرنه هغه وخت لا پیاوړې شوه، چې غرمه مهال د کابل اداري تړولو نظامي او ملکي کارکوونکو په ځغا سته له وزارتونو او دفترونو تېښته خپله کړې وه او بیت المال یې بې څښتنه په تش میدان تر شا پرېښی وو.

د خپلواکۍ ویاړ هغه مهال یو ځل بیا په ولولو شو، چې ورو ستی امریکایي سرتېری د کابل له هوایي ډګره په نیمه شپه له خپلو پاتې شونو سره یو ځای له افغانستانه په دا سې حال کې ووت، چې مجاهدین خپل پالونکي ته د شکرانې په سجده پراته وو او د خوښۍ په نمجنو سترګو یې د تېښتې ننداره کوله. د نیمې شپې دا شېبې هغه مهال لا په ولولو شوې، چې د خپلواکۍ د لمانځنې جشن تول هېوادوال هبنښ کړل او له همدې شپې اسلامي امارت یو ځل بیا د هېواد د بشپړې خپلواکۍ زېرې وکړ.

هو، د اګست ۱۵مه د هېواد په معاصر تاریخ کې د افغانستان د مېړني ولس لپاره په یوه پېرۍ کې له درېیمې لویې امپراتورۍ او ښکیلاککګرو څخه د خپلواکۍ ویاړلې ورځ ده، چې دا ځل الله جل جلاله دا ویاړنه د افغان مجاهد ولس په ملاتړ د افغانستان د اسلامي امارت په برخه کړه.

نن، د افغانستان اسلامي امارت واکمنۍ د درېیم کال په درشل ولاړه ده، په تېرو دریو کلونو کې له هغې ورځې راپدېخوا چې د امیر المؤمنین – حفظه الله تعالی- له اړخه د اسلامي امارت د بریا او ویاړلې فتحې په پار د اسلامي نظام بشپړ حاکمیت اعلان شو، کورنیو مجرمینو او د امریکایي اشغال لاسپوڅو ته عمومي عفوه وشوه او له تړولو هېوادوالو وغوښتل شول چې خپل عادي ژوند ته راوګرځي او د هېواد د ابادۍ او سوکالۍ په لړ کې خپل ا سلامي او افغاني مسوولیت تر سره کړي؛ نو له شک پرته -لله الحمد- افغان ولس او حاکم نظام د تېرو دریو کلونو په لړ کې خورا لویې لاسته راوړنې لري او له بل هر وخته یې ژوند او حاکمیت پیاوړی شوی دی.

د ۱۴۰۱ سنبلې په ۱۶مه، چې د اسلامي امارت زعیم امیر المؤمنین -حفظه الله- د افغانستان لپاره لومړنۍ کابینه

اعلان کړه، د بهرنیو چارو وزارت مشرتابه ته د پیاوړي مجاهد او مدبر شخصیت، چې د امارت د تېر او سني دواړو دورو د رهبرۍ له غړیتوب سربېره د سیاسي او فرهنګي زړورې مبارزې ویاړ هم لري، له ټاکلو سره سم د بهرنیو چارو وزارت چارې او کړنې عملا پیل شوې.

د بهرنیو چارو وزارت په تېرو دریو کلونو کې د نړۍ د پېچلو سیاسي حالاتو په منځ کې خورا سترې، ځیرکه سیاسي مبارزه پیل او پر مخ کړه، د وزارت داخلي سیستم او اداري ځواک یې بیا ځلي فعال او چمتو کړ، د اسلامي امارت د شل کلن سیا ست او جهادي مبارزې د ډګر وتلي ځوانان مجاهدین یې په دندو وګومارل او بهر ته یې د اسلامي امارت ډیپلوماټان وا ستول. همدا راز یې د هېواد ژمنو، په کارپوهو او متعهدو علمي شخصیتونو ته هم د وزارت په چوکاټ کې د نظام او هېوادني خدمت زمینه برابره کړه.

د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي مزل بل قدم په هېواد کې دننه د شته کور ډیپلوماټیک غړو او ادارو لپاره د کاري اسانتیا چاپېریال رامنځته کول او د دوی بېلابېلې چارې او کړنې همغږې او منسجمې کول وو، چې تر دې دمه د شاوخوا ۲۶سفارتونو او قونسلګریو ببرته پرانیستل، د شاوخوا ۲۲هېوادونو د نا استوګن استازي په کچه تعامل او د ډېرى نړیوالو ادارو بېرته فعالېدل یې د سیاسي تعامل بل محکم قدم بلل کېږي.

له هېوادونو سره د د دوه اړخیزو او څو اړخیزو جدي بحثونو او پرله پسې خبرو اترو په پایله کې د ګاونډیو هېوادونو سربېره د سیمې او نړۍ په کچه د افغانستان د شاوخوا ۳۸ سیاسي او ډیپلوماټیکو استازولیو (سفارتونه او قونسلګرۍ) ببرته عادي حالت ته راګرځول هغه مهمه چاره وه، چې د بهرنیو چارو وزارت د کاري ا ستقامت له مخې خپلې کړنې او قونسلي چارې او خدمتونه په بهر کې مېشتو هېوادوالو او بهرنیانو ته وړاندې کوي. د یادو ا ستازولیو د اداري او مالي کړنو د ډاډ په موخه د وزارت د مشرتابه د جدي پلټنو او ارزونې په پایله کې د وزارت د عوایدو کچه لوړه او ټولې اداري او مالي چارې په بشپړ شفافیت له هر ډول درغلۍ، غش او ناغېړۍ پرته د ډاډمن اداري او مالي سیستم له مخې عادي وړاندې کېږي.

د ستوري مجلې ۵مه ځانګړې ګڼه د اشغال د پای او د اسلامي امارت د بریا د درېیمې کلیزې لمانځنې ته ځانګړې شوې ده، چې پکښې د تېرو دریو کلونو په درشل کې د بهرنیو چارو وزارت د بهرني سیاسي تعامل د مهمو لا سته راوړنو او په دې لړ کې د پرمختګونو راپورونه او معلومات وړاندې شوي دي. له دې سربېره په دې ګڼه کې د مجلې د کاري کړنلارې له مخې د تېرو شپږو میاشتو په لړ کې د بهرنیو چارو وزارت د مشرتابه د ورځنیو لیدنو، مهمو بهرنیو سفرونو راپورونه او په بېلابېلو نړیوالو او سیمه ییزو کانفرانسونو کې ویناوې هم وړاندې شوې دي.

د اسلامي نظام درې کلنه واکمني دې لا ویاړلې او اسلامي حاکمیت دې تلپاتې وي!